بصیرالحق عادل

۲۰۱۶/۰۱/۱۹

جنتي ژبه د نړۍ په دوزخ کې

پښتانه چې په دې نړۍ کې نن سبا پېژندل شوي خلک دي، ژبه يې هم د نړۍ په لر او بر کې خلک پېژني. له نيکمرغه ګڼ شمېر پښتو اثار نورو ژبو ته ژباړل شوي دي، د پښتو ژبې عظيم او نابغه شاعر خوشحال خټک «دستارنامه» ويل کيږي د نړۍ تر ۱۷ ډېرو ژبو ژباړل شوی.
که څه هم پښتو ادب ثابت تأريخ نه لري، خو د يو شمېر پوهانو نوې څېړنې او موندنې ښيي چې دا ژبه ۷۰۰۰زره کاله پخوانۍ ده.
دا ژبه چې د هر وخت دښمن لخوا پرې بېلابېل چپاوونه ور وړل شوي دي، يو شمېر نسخې يې ورکې شوي او سوځول شوي دي، د نورو ژبو لخوا پرې بېلابېل يرغلونه شوي دي ترڅو د دې ژبې خوږوالی، سلاست، سوچه والی، لرغونتوب، نړيوالتوب او پېژندنه له منځه يوسي، نو ځکه خو ارواښاد محمد ګل خان مومند بابا ويلي دي: «که غواړې هر قوم له منځه يوسې، نو ژبه ترې واخله.»
د تاريخ پاڼې په دې ډکې دي چې پښتو تر پښتنو ډېره ځپل شوې او ژوبل شوې ده، خو دا ژبه چې حمزه بابا لا له وړاندې جنتي ژبه بللې ده، تر څو چې دا نړۍ وي، دا پښتون وي نو پښتو به ويل کيږي، ليکل کيږي او لوستل کيږي به.
يوويشتمه پېړۍ چې په هر لحاظ د ماضي څخه ښکاره توپير لري او په ټوله کې مخته تللې او له امکاناتو ډکه سنه شمېرل کيږي، د پښتو په څېر ژوندیو ژبو باندې لا هم يرغلونه او بريدونه روان دي.
مالومه خبره ده چې يوه ټولنه دوه قدمه وروسته وي، نو ژبه يې هم وروسته وي. که يو روغ هېواد په سياسي، اقتصادي او نورو برخو کې مخته ولاړ شي، دغه برخې يې جوړې او قوي شي نو ژبه يې هم د نورو ژبو سره سيال شي.
که څه هم په وار وار او کراتو کراتو د پښتو يو شمېر خواخوږ، څېړونکو او ليکوالو د ژبې د پرمختګ او په خپله ژبه د زده کړې لپاره لوی لوی سيمينارونه جوړ کړي دي، په بېلابېلو وختونو کې يې غونډې ور بللې دي، تر نړۍ يې چغې وهلې دي ترڅو په خپله مورنۍ ژبه د زده کړې حق ورکول شي خو دغه کار په دې خاطر تر ډېره پايله نه ده ورکړې چې نن په «خېبر پښتونخوا» کې دا جنتي ژبه د يو شمېر دوزخيانو لخوا په ډېرې سپين سترګۍ له نصابه شړل کيږي خو نور ورته په بټو بټو ګوري او هيڅ نه وايي.
سرله دې چې په افغانستان کې هم تر ډېره دا ستونزه ليدل کيږي، يوازې دا نه چې په يو شمېر سيمو کې پښتانه پر خپلې خوږې ژبې له زده کړې محروم دي، بلکې پښتون ميشتو سيمو لپاره چې کوم تعليمي نصابونه جوړ شوي دي د پښتو ژبې يو شمېر عالمانو له ګڼو نيوکو سره هم مخ شوي دي او ډېرې غلطياني پکې ښکاري.
خېبر پښتونخوا چې د لوی افغانستان برخه ده، پښتانه پکې ژوند کوي، د پښتو ژبې لوی لوی ليکوال، عالمان او پوهان پکې تېر شوي دي او اوس هم ژوند پکې کوي، خو د افغانانو او پښتنو دښمنان دومره سخت زړي دي چې پر افغان وژنه يې زړه يخ نه شو، اوس پر ژبه هم ګوذارونه کوي او نړۍ کې پېژندل شوې«پښتو»سيمه ييزه ژبه بولي.
زما په اند د پښتو په مروجوالي کې ليکوال او څېړونکو تر ډېره خپله مېړانه کړې او دغه حق يې تر يو بريده ادا کړی خو زموږ سياستوالو او يو شمېر معامله ګرو خپلې ژبې ته شاه کړې ده.
لوی کمی چې زموږ په وطن کې ليدل کيږي دا دی چې د چا دنده نه ده معلومه، تر ټولو مهمه خبره د ژبې سمول دي، هر څوک: ليکوال، سياستوال، رئيس، ښوونکی، ډاکټر، انجينر او د دې هېواد او د دې ټولنې د هرې وګړې بايد خپلې ژبې ته پام وي، زده يې وي، ګرامر، ادبياتو، تاريخ او يو شمېر نورو مسائيلو خبر وي، ژبې ته په احتمالي پېښېدونکو ستونزو پوه وي او له وړاندې يې بايد چمتووالی ورته نيولی وي. دا کار خو زموږ په ټولنه کې چا نه دی کړی، د شرم وړ خو دا ده چې د وزارت پر چوکۍ به ناست وي خو په خپله ژبه به سمې او منظمې خبرې نه شي کولی، پوهنتون کې به ښوونکی وي خو د خپلې ژبې له ګرامر به ناخبره وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

بله لویه ستونزه زموږ په ټولنه کې دا ده چې د پښتو ژبې څېړونکي او لیکوالو مو خپل کار نه دی پېژندلی او یا یې له وخت رنګ اخیستی، پر ځای د دې چې ژبې ته کار وکړي سیاست او چوکیو ته یې مخه کړې ده، چې دې کار هم پښتو باندې د دښمن ګوذار کولو ته زمینه برابره کړې ده.
خېبر پښتونخوا کې همدا اوس اوس د پاکستان دولت اعلان کړی چې «پښتو» دې له تعلیمي نصاب و ایستل شي، دوی وایي دا کار ځکه کوي چې دا یوه سیمه ییزه ژبه ده.
چې د یوې ژبې آثار د نړۍ په ټولو ژوندیو ژبو وژباړل شي نو دا څنګه سیمه ییزه کېدلی شي؟
یوه ژبه چې اوه زره کلن تاریخ ولري،
یوه ژبه چې نړیوال یې پر تاریخ او لرغونتوب څېړنې وکړي او آثار پکې ولیکي،
یوه ژبه چې نړیوال پکې پر یو لیکوال د خپلې ماستړۍ تېزس ولیکي،
یوه ژبه چې میلیونونه خلک یې په تلویزیونونو کې واوري، څنګه سیمه ییزه کېدلی شي؟
تاریخ به په دې باب څه قضاوت وکړي؟
بس همدا فیصله به وکړي چې یو وخت «جنتي ژبه د نړۍ د دوزخیانو په ولکه کې وه او هر څه چې یې غوښتل پرې کولی یې شو.»

پای

د پاڼو شمیره: له ۲ تر ۲

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ